# قرباني: د دوديز فکر بيا کتنه

**ليکوال: پرويز**

مترجم: تاند انديش

# قرباني: د دودیز فکر بیا کتنه

**لیکوال: پرویز**

مترجم: تاند اندیش


- ډیزاین: مترجم
- مخونه: ۷۰
- چاپ: لومړی
- د چاپ کال: ۲۰۲٦
- د چاپ شمېر: ۱۰۰۰


د کتاب د بیا ځلي چاپ حق یوازې له مترجم سره دی

بسم الله الرحمن الرحیم

## قرباني: د دوديز فکر بيا کتنه

په طلوع اسلام کې چې د قربانۍ په اړه څه خپاره شوي وو، د لوستونکو له نظره تېر شوي دي. د دې په ځواب کې چې نور څه په بېلابېلو جرايدو او رسالو کې خپاره شوي، هغه به هم هغوی ليدلي وي. کله چې دا ليکنې زموږ مخې ته راغلې، نو موږ احساس کړه چې پر دې موضوع لږ تفصيلي خبرې ته اړتيا شته. اوس چې بيا د قربانۍ اختر رانژدې کېږي، د دې مسئلې په هکله د پوښتنو لړۍ پيل شوې ده. په دې سره د تفصيلي بحث اهميت لا هم روښانه شوی دی.

لومړی دا وګاکئ چې تر بحث لاندې مسئله څه ده. اوس مهال حالت داسې دی چې:

i. د حج پر مهال حاجيان په مکه معظمه کې حيوانات ذبح کوي چې دې ته قرباني ويل کېږي.

ii. يو-يو حاجي څو-څو حيوانات ذبح کوي. دغو حيواناتو ته بيا په ځمکه کې کنده کېنبل کېږي او دوی پکې اچول کېږي.[۱]

iii. د اختر په موقع کې د نړۍ ټول مسلمانان په خپلو-خپلو ځايونو کې حيوانات ذبح کوي. دې ته هم قرباني ويل کېږي.

پوښتنه دا ده چې له دې شيانو څخه د کوم شي حکم په قرآن کريم کې هم موندل کېږي، که دا کارونه همداسې د رواج په توګه روان دي؟

تر دې مخکې چې اصلي پوښتنې ته ورسېږو، مهمه ده د تمهيد په توګه يوه خبره وړاندې کړو. زموږ په منځ کې د بېلابېلو وجوهاتو له امله داسې حالت رامنځته شوی دی چې که ته د «مذهب» په اړه هره خبره د فلسفې، منطق، تصوف، تفاسير، روايات او داسې نورو له حوالې سره وکړې، نو هېڅ معترض به نه وي؛ خو چې کله د کومې موضوع په اړه دا ووايې چې بايد وګورو قرآن د دې په اړه څه وايي، نو د دې خبرې په اورېدو سره داسې جذبات راپارېږي لکه تا چې د الحاد او بې‌دينۍ تر ټولو بده خبره کړې وي. موږ د «مذهب» په معامله کې د يهوديانو افسانې، د قصه ويونکو کيسې، د يوناني فلسفې قياسونه، د مجوسيانو د اور پالنې خبرې، د ويدانت خيالي مانۍ، د برهمو ټولنيز ډول خرافات، حتی د کوم مجذوب چټيات خبرې هم په زغم سره اورو او هڅه کوو چې په دې لغوياتو کې کومه معنا پيدا کړو. خو چې کله څوک ووايي: راځئ

[۱] روښانه دې وي چې دا ليکنه د جولای ۱۹۵۱م کال ده. اوس مهال حالت بدل دی.

وګورو چې په دې اړه د قرآن تعلیم څه دی، نو موږ هڅه کوو چې څوک يې وانه وري؛ ځکه موږ ته داسې احساس کېږي چې له دې سره د ایمان د خرابېدو خطر او د عاقبت د بربادېدو اندېښنه ده.

لکه څنګه چې موږ څو-څو ځله لیکلي دي، دا د هغه منظم سازش پایله ده چې ځینو عناصرو له اسلام څخه د خپل انتقام اخیستلو لپاره په کار اچولې ده، او د هغې پایله دا شوه چې (د اقبال په الفاظو کې):

حقیقت خرافات میں کھو گئی

یہ امت روایات میں کھو گئی

ورو-ورو مسلمانانو ته له قرآن څخه دومره کرکه پیدا شوه چې د هغوی په نزد خالص قرآن ته بلنه د الحاد او زندیقیت مترادفه وګرځېده. تر دې لوی انقلاب د لمر سترګې تر اوسه نه دی لیدلی او نه به د اسمان ستورو داسې بریالی سازش لیدلی وي چې له مخې يې یوه قوم پر خپل آسماني کتاب د ایمان دعوه هم کوي، خو کله چې ورته ووېل شي چې په خپلو معاملو کې دا کتاب حکم وګرځوئ، نو داسې ویونکی د وژلو او له منځه وړلو وړ وګرځول شي. زموږ له بدمرغۍ څخه زر کاله کېږي چې زموږ د مسجدونو، منبرونه او د خانقاوو حجرې په ناخبرۍ سره د همدې سازش مرکزونه ګرځېدلي دي، او د خپلې ساده‌ګۍ له امله د دې سازش د لا پیاوړي کولو هره هڅه د دین خدمت ګڼي او له امت څخه د دې اجر هم غواړي، او دوکه شوی امت د دې غوښتنې په پوره کولو کې د دواړو جهانونو نېکمرغي احساسوي. د دې ډول ساده‌ګۍ مثال ښايي د تاریخ په پاڼو کې بل ځای ونه موندل شي.

له همدې امله له هغو خلکو سره چې تر اوسه پورې -دانسته یانادانسته- د دې سازش بیرغوال دي یا د دې فریب په جال کې راگیر دي، خبرې کول بې گټې دي. خو هغه نېکبخت زړونه چې دې حقیقت ته رسېدلي دي چې الله تعالی تر قیامته پورې د قرآن د ساتنې ذمه‌واري ځکه اخیستې وه چې دا تر قیامته پورې د مسلمانانو د ژوند ضابطه وي، موږ هغوی ته بلنه ورکوو چې فکر وکړي چې په دې باب کې د قرآن حکم څه دی. د دې تفصیلي بحث انگېزه له همدې ولولې سرچینه اخلي.

پوښتنه ستاسې مخې ته راغلې ده. اوس وگورئ چې په دې باب قرآن څه وایي. تر ټولو لومړی دا درک کړئ چې قرآن د دې حیواناتو د ذبح کولو لپاره هېڅ ځای د «قرباني» کلمه نه ده کارولې. نه یې دا په ځانگړې ډول د قرب الٰهي وسیله گرځولې ده.[۲] دا تصور چې د حیواناتو د وینو بهولو سره خدای خوشحالېږي او له همدې امله قرباني د تقرب الٰهي سبب گرځي، یو غیرقرآني تصور دی. نن زموږ په ټولنه کې له قربانۍ سره همدا تصور تړل شوی دی. دا د هغه سازش پایله ده چې مخکې یې یادونه وشوه او د اسلام په ځېر ژوند بخښونکی نظام یې یوازې د رسوماتو مجموعه گرځولې ده.

---

[۲] موږ دا خبره په ځانگړي ډول ځکه لیکلې ده چې قرآن کومه ضابطهٔ حیات ټاکې، د هغې مطابق ژوند کول (یعنې د الهي قوانینو اطاعت) د سجدې له لارې د انسان په دننه کې د صفاتِ خداوندی په څېر صفات وده کوي او په بشپړه توگه (develop) کېږي. همدې ته «قرب الٰهي» ویل کېږي. له دې اړخه د قرآني ضابطې هر عمل د قرب الٰهي سبب گرځي، او له همدې امله حج او د هغه قرآني مشمولات چې د دې ضابطې نه بېلېدونکې برخې دي، په عمومي توگه د قرب الٰهي موجب دي.

قرآن هغه تمدني نظام (social order) جوړول غواړي چې د هغـه د پیـل ټکی الصلوٰة دی او پای یې حج دی؛ یعنــې د ملت لـه کوچنیـو-کوچنیـو وحدتونو (units) له سمې جوړونې څخـه پیـل بیـا ټـول ملـت د یـو مرکـزِ وحدانیت پر شاوخوا راټولول، هغوی د الهي قوانینو مطـابق چلـول، او لـه هغه وروسته دغه ضابطهٔ حیات په ټوله نړۍ کې د نافذولو وسیله ګرځول. حج د ملت د همدې ستر اجتماع نوم دی چې پکې د قرآني نظـامِ حیـات د پروګرام پـه اړه غـور او فکـر کېـږي او د هغـه د عمـلي کولـو لارې چـارې سنجول کېږي.

د دې اجتماع مرکز بیـت الحـرام (خانـه کعبـه) دی چــې د ملـت اسـلامیه محسوس مرکز دی. د دې سترې اجتماع د بریالي کولـو لپـاره هـره هڅـه مبارکه او هر اقدام نېکمرغـه دی. پـه قـرآن کـریم کـې د حیوانـاتو د ذبـح کولو یادونه هم د همدې اجتماع په تړاو شـوې ده، او هغـه آیتونـه دا دي. (د دې آیتونو لپاره جلا-جلا نمبرونه هم ورکـړل شـوي دي څـو وروسـته د حوالې په وخت کې اسانتیا وي. همدارنګه د هغوی ترجمه هـم د مروجـو ترجمو له مخې شوې ده څو دا اعتراض رامنځته نه شي چې موږ -خـدای مه کړه- د خپل مطلب لپاره د معناوو د جوړولو په خاطر ترجمه بدله کړې ده.)

په سورة الحج کې دي:

(۱) وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ۝ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۖ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ. (۲۲:۲۷–۲۸)

او په خلکو کې د حج اعلان وکړه. خلک به درته راشي، پلي هم او پر ډنگرو او سترو اوښانو هم، چې له لیرې-لیرې لارو څخه به را رسېدلي وي. څو خپلو گټو ته راحاضر شي او په ټاکلو ورځو کې پر هغو څارویو د الله نوم یاد کړي چې الله هغوی ته ورکړي دي. نو له هغو څخه خپله هم خوراک وکړئ او مصیبت ځپلي اړمن ته یې هم ورکړئ.

د دغو حیواناتو په اړه وړاندې داسې ارشاد شوی دی:

(۲) لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ. (۲۲:۳۳)

په دغو حیواناتو کې تر یوې ټاکلې مودې پورې ستاسو لپاره گټې دي. وروسته د هغو د حلالېدو ځای البیت العتیق (خانه کعبه) ته نژدې دی.

تر دې وروسته دي:

(۳) وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُمْ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ. (۲۲:۳۶)

او د قربانۍ اوښان[۳] موږ ستاسو لپاره د شعائر الله[٤] له جملې گرځولي دي. په دغو حیواناتو کې ستاسو لپاره (نورې هم) گټې شته. نو تاسو پر هغو په ولاړه د الله نوم واخلئ. کله چې هغوی په یوه اړخ ولوېږي، نو تاسې ترې خپله هم خوراک وکړئ او سوال کوونکي او نه سوال کوونکي

[۳] کوم لفظ چې د «قربانۍ د اوښانو» په معنا ژباړل شوی دی هغه لفظ البدن دی. البدن د چاغ او فربه معنا لري. البدن د بدنة جمع ده، چې معنا یې چاغ اوښان او داسې نور حیوانات دي چې د حج په موقع په مکه کې ذبح کېدل، ځکه یې هغه چاغ ساتل کېدل.

[٤] شعار په یادگارونو ترجمه کېدلی شي، چې صحیح مفهوم به یې وروسته راشي.

محتاج ته يې هم ورکړئ. مونږ دا حيوانات په دې ډول ستاسو تر واک لاندې کړي دي څو تاسو شکر وباسئ.

او تر دې مخته پسې وايي:

(٤) لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ ۗ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ. (٢٢:٣٧)

الله ته نه د هغو غوښه رسېږي او نه د هغو وينه، بلکې هغه ته ستاسو تقویٰ رسېږي. په همدې ډول الله دا حيوانات ستاسو تر واک لاندې کړي دي څو تاسو د الله لويي بيان کړئ پر هغه څه چې هغه تاسو ته هدايت کړی دی. او د محسنينو لپاره زېری دی.

دا د سورة الحج آيتونه دي. هغو ته وګورئ او بيا غور وکړئ چې دا د تر بحث لاندې مسئلې په اړه څومره صاف او څرګند دي.

په لومړي آيت کې د کلام سلسله د حج له اعلان څخه پيلېږي، او په همدې ترڅ کې ويل شوي دي چې:

حيوانات حلال کړئ، او له هغوی څخه خپله هم خوراک وکړئ او حاجتمندانو ته يې هم ورکړئ.

له دوهم آيت څخه څرګندېږي چې دا هغه حيوانات دي چې له هغو څخه مخکې د عادي حيواناتو کار اخيستل کېږي. پر هغو سپرلی کېږي يا بار پر وړل کېږي او د حج لپاره پرې سفر کېږي، او وروسته بيا د حج په مراسمو کې په مکه معظمه کې حلالېږي.

دریم آیت هم د دوهم آیت د مضمون تایید کوي؛ یعنې د دغو حیواناتو گټې او له هغه وروسته د هغو حلالول، خپله هم ترې خوړل او محتاجانو ته هم ورکول. (دا چې هغه شعائر الله دي، د دې بیان به وروسته راشي.)

په څلورم آیت کې د هغه غلط تصور رد شوی دی چې له مخې یې داسې گڼل کېده چې د قربانۍ حیثیت گټور نه دی؛ بلکې د خدای د خوشحالولو لپاره دی، او هغه له وینې تویولو سره ترلاسه کېږي؛ نو ځکه باید د قربانۍ حیوانات حلال او پرېښودل شي. د دې پر خلاف دا خبره څرگنده شوې ده چې د دې حیواناتو له حلالولو څخه هدف دا نه دی چې د وینې په تویولو سره خدای خوشحاله شي، بلکې هدف یوازې دا دی چې د هغوی غوښه ستاسو او نورو اړمنو خلکو په کار راشي. د الله په نزد ارزښتمن شی ستاسو تقویٰ ده. د تقویٰ تشریح په راتلونکو الفاظو کې شوې ده. هلته دا څرگنده شوې ده چې ستاسو د ژوند مقصد دا دی چې هغه ضابطهٔ حیات چې تاسو ته یې لارښوونه شوې ده، ټینگه او منظمه کړئ، او په دې ډول په نړۍ کې د قانون خداوندی عظمت او کبریایي ثابته کړئ. د حج اجتماع د دې مقصد د ترلاسه کولو یوه کړۍ ده، او دا حیوانات د دې اجتماع د گډونوالو د خوراک او څښاک وسیله گرځي.

د قرآن له مخې په نړۍ کې یوازې دوې ډلې دي: یوه هغه چې د الهي ضابطې له مخې ژوند تېروي (مسلم) او بله هغه چې له دې پرته نورې د ژوند ضابطې خپل مسلک گرځوي (غیرمسلم). قرآن غواړي چې د دغو دواړو ډلو تر منځ روښانه او بې‌ابهامه امتیازي کرښې جوړې کړي، څو هغوی د ژوند په هره برخه کې په اسانه وپېژندل شي. نو ځکه هر هغه عمل یا شی چې دا ډول پېژندنه پیدا کړي شعائر الله بلل کېږي. شعار

هغه ځانګړې نښې ته ویل کېږي چې په جګړه کې کارول کېږي څو له هغې لارې خپل ملګري او دوستان وپېژندل شي. حج د ټولې نړۍ د مسلمانانو مرکزي اجتماع ده، د زړونو د یووالي او نظري اتحاد عملي څرګندونه ده او د هغو خلکو د پېژندنې مراسم دي چې تر یوه قانون لاندې ژوند تېروي. تر دې لویه د دوستانو او ملګرو اجتماع بل څه کېدای شي؟ له همدې امله د حج اړوند شیان (صفا او مروه او البدن او نور) په ځانګړي ډول د شعائر الله په نوم یاد شوي دي. په سورة المائدة کې دي:

(٥) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَائِدَ وَلَا آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا. (٥:٢)

اې ایمان والو! د شعائر الله بې‌حرمتي مه کوئ، او مه د حرمت لرونکې میاشتې، او مه د حرم لپاره د قربانۍ د حیواناتو، او نه د هغو حیواناتو چې په غاړو کې یې پټې اچول شوې وي، او مه د هغو خلکو چې البیت الحرام ته روان وي او د خپل رب فضل او رضامندي غواړي.

ځکه له حج څخه مقصد په نړۍ کې د الهي قوانینو عملي نافذول دي، پایله به یې دا وي چې د انسانانو تر منځ به سم توازن پیدا شي، او په دې ډول به انسانیت پر خپلو پښو د درېدو وړ شي. له همدې امله چې الله تعالی چېرته البیت الحرام د انسانیت د قیام سبب ګرځولی دی، هلته یې د هغه اړوند شیان هم په همدې الفاظو سره یاد کړي دي. فرمایي:

(٦) جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ. (٩٧: ٥)

الله تعالی کعبه البیت الحرام د خلکو د قیام سبب گرځولې ده، او هم د حرمت میاشت، د حرم لپاره د قربانۍ حیوانات او هم هغه حیوانات چې په غاړو کې یې پټۍ اچول شوې وي.

له (۱) تر (٤) آیتونه بیا مخې ته راوړئ. له هغو څخه دا حقیقت روښانه کېږي چې د قرآن له مخې:

(۱) قرباني یوازې د حج په موقع ده.

(۲) د قربانۍ ځای مکه معظمه ده، چېرته چې حج کېږي.

(۳) د قربانۍ مقصد دا دی چې د دغو حیواناتو غوښه وخوړل شي.

(۴) دا گومان کول چې د حیوان په حلالولو سره قرب الٰهي ترلاسه کېږي، غلط دی.

له دې حقایقو څخه دا خبره څرگنده شوه چې:

(الف) له حج پرته په بل هېڅ ډول مناسباتو کې د قربانۍ یادونه نشته.

(ب) له مکې معظمې پرته په بل هېڅ ځای کې قربانۍ نشته.

(ج) هغه حیوان چې غوښه یې د خوړلو په کار نه راځي، هغه ته قرباني نه شي ویل کېدای؛ ځکه چې په هغه کې یوازې وینه توی شوې ده، او وینه الله ته نه رسېږي. نو ځکه داسې کول اسراف دی؛ یعنې په بې‌پایلې او بې‌گټې ډول د یوه حیوان ضایع کول دي.

له همدې امله نو:

(i) د حج په مراسمو کې د حیواناتو حلالول او بیا هغوی په خاورو کې ښخول د قرآني پیغام په بشپړ ډول خلاف دي.

(ii) او دا چې د لوی اختر په مراسمو کې د نړۍ په ښارونو کې قرباني کېږي، د هغو حکم خو پرېږده، بلکې په قرآن کې يې يادونه هم نشته. حتى دا د قرآن د حکم خلاف دی؛ ځکه چې کله قرآن د قربانۍ ځای په صراحت سره ټاکلی دی، نو دا ټاکلی ځای عام گرځول د قرآني مقصد خلاف دی. د بېلگې په توگه: قرآن د لمانځه لپاره د قبلې لوری ټاکلی دی؛ له دې وروسته هر لوري ته مخ کول او لمونځ کول به د قرآني حکم خلاف وي.

اوس نور آيتونه وگورئ. په سورة البقرة کې دي:

(۷) وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ.(٢:١٩٦)

او حج او عمره د الله لپاره پوره کړئ. که تاسو (د کوم سبب له امله) ودرول شئ، نو د قربانۍ له حيواناتو څخه چې هر څه ميسر وي (د خانه کعبه لوري ته يې واستوئ).

وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ. (٢:١٩٦)

او خپل سرونه مه خرييئ تر هغه چې قرباني خپل ټاکلي ځای ته ونه رسېږي (او هغه ځای حرم دی).

فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ.

که له تاسو څخه څوک ناروغ وي، يا د سر له اړخه کوم تکليف ولري، نو د هغه لپاره فديه ده: يا روژه، يا صدقه، يا نسك. (قرباني)

فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ. (٢:١٩٦)

نو کله چې د امن حالت پیدا شي، بیا هغه څوک چې عمره له حج سره یوځای کړي او له دواړو څخه ګټه واخلي، نو له قربانۍ څخه چې څه میسر وي حلال دې یې کړي.

فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ. (۲:۱۹٦)

نو هغه څوک چې د قرباني حیوان ونه مومي، د هغه پر ذمه درې ورځې روژه د حج په ورځو کې او اووه ورځې هغه وخت چې بېرته ستانه شئ؛ دا یې بشپړې لس ورځې. دا حکم د هغه چا لپاره دی چې د هغه اهل و عیال د مسجد حرام اوسېدونکي نه وي.

په دغو آیتونو کې ویل شوي دي چې په حج او عمره[٥] کې په عادي حالاتو کې د قربانۍ حکم نشته. د اړتیا له مخې به د خوراک او څښاک لپاره د حیواناتو حلالول د خپلمنځي مشورې له مخې ترسره کېږي.

خو که له لاندې اسبابو څخه کوم سبب پیدا شي، نو د هدي یا نسك حکم شته (د دې الفاظو معناوې به وروسته بیان شي).

(۱) که کوم کس د حج یا عمرې اراده وکړي خو محصور شي او خانه کعبه ته ونه رسېږي، باید خپل هدي د بل چا له لارې ولېږي. کله چې هدي مکې ته ورسېږي، نو دې سر وخرېیي او له احرام څخه دې ووځي. له دې مخکې دې سر نه خرېیي.

[٥] حج د ټولې نړۍ د مسلمانانو د استازو کلنی کنفرانس دی، او د کال په اوږدو کې چې کله ناکله کوم کنفرانسونه کېږي، هغه عمره ده.

(۲) دوهم سبب دا دی چې د احرام په حالت کې (په داسې حال کې چې سر خرېيل منع وي) د کوم تکليف له امله سر خرېيلو ته مجبور شي، نو د دې بدله دا ده چې روژې ونيسي، يا صدقه ورکړي، يا نسك وکړي.

(۳) درېيم دا چې حج او عمره يوځای وکړي، نو په دې صورت کې دې هدي ورکړي. که دا ورته ميسر نه شي، نو لس ورځې روژې دې ونيسي.

که تاسو غور وکړئ نو دا حقيقت به څرګند شي چې په دې ځايونو کې هم يوازې د قربانۍ حکم نه دی ورکړل شوی. د لومړي سبب لاندې يوازې دومره بيان شوي چې د حج اراده کوونکی که د کوم عذر له امله (د محصور کېدو په صورت کې) څه وکړي. په دې صورت کې دې خپل هدي تر کعبې پورې ولېږي. په دوهم سبب کې د روژو، صدقې يا نسك حکم دی او په درېيم سبب کې د هدي حکم دی، په دې شرط چې ميسر شي؛ که ميسر نه شي نو بيا دې روژې ونيسي.

په دې آيتونو کې د هدي او نسك الفاظ راغلي دي. هدي د هدية جمع ده، چې معنا يې تحفه ده. پخپله په قرآن کې راغلي دي:

بَلْ أَنْتُم بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ. (۲۷:۳٦)

نو لازمه نه ده چې هدي يوازې د قربانۍ حيوانات وي.

فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ. (۲:۱۹٦) دا حقيقت نور هم روښانه کوي، يعنې له تحفو څخه چې هر څه اسانه او ميسر شي، هغه دې کعبې ته ولېږي، څو هلته راټولو شوو خلکو ته ګټه ورسوي.

د عربو په منځ کې تر ټولو غوره تحفې د هغوی حيوانات وو، نو هغوی حيوانات د تحفو په توګه وړاندې کول؛ خو لازمه نه ده چې تحفې يوازې

حیوانات وي. نو د پورته آیتونو مطلب دا شو چې کله د حج اراده کوونکی په لاره کې بند شي، نو خپلې تحفې دې کعبې ته ولېږي. همدارنګه څوک چې له حج او عمرې څخه یوځای ګټه اخلي، که کومه تحفه ورته میسره شي، نو وړاندې دې یې کړي، او که نه شي نو روژې دې ونیسي.

همدارنګه د نسك معنا هم یوازې قرباني نه ده. نسك د سپینو زرو خالصو ټوټو ته هم ویل کېږي. د اخلاص له امله له دې څخه د عامو عبادتونو مفهوم اخیستل کېږي (تفصیل به وروسته راشي). وروسته بیا ذبیحه ته هم نسك ویل کېدل پیل شول.

که له دې خبرې صرف نظر هم وشي، یعنې له هدي او نسك څخه د قرباني حیوانات مراد شي، بیا هم له پورته آیتونو څخه دا خبره څرګنده ده چې د هغو ځای کعبه ده. هغه باید هلته ورسول شي (حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ) (۲:۱۹٦) او همالته به حلالېږي، څو د حج په اجتماع کې ګډونوال له هغو څخه د خوراک او څښاک استفاده وکړي. دا حقیقت په بل ځای کې لا هم روښانه شوی دی. هلته ویل شوي دي چې د احرام په حالت کې ښکار کول جایز نه دي. که څوک په قصد سره کوم حیوان ووژني، نو د هغه په بدل کې دې د هغه په څېر یو حیوان ورکړي چې پرېکړه به یې دوه عادل کسان کوي:

هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ. (۵:۹۵) دا هدیه[٦] باید کعبې ته ورسول شي. له دې څخه هم څرګندیږي چې هدیه باید حتماً تر کعبې ورسول شي.

---

[٦] د (۷) نمبر آیت په ترجمه کې اشرف علي تهانوي د هدي ترجمه «قرباني» کړې ده، خو په همدې ځای کې یې د هدي ترجمه «نیاز» کړې ده. د هغه الفاظ دا دي: «په دې شرط چې دا

له پورته آیتونو څخه بیا دا حقیقت هم روښانه شو چې د قربانۍ ځای کعبه ده. له کعبې پرته بل ځای نشته.

اوس یو بل آیت وګورئ چې له هغه څخه دا حقیقت لا نور هم روښانه کېږي چې د قربانۍ ځای خانه کعبه ده. په ٦ هـ کې رسول الله ﷺ د عمرې ادا کولو په اراده له مدینې څخه د مکې پر لور روان شو، خو د مکې قریشو نبي ﷺ مکې ته له داخلېدو څخه منع کړ. دا د حدیبیې ځای وو، چې هلته هغه مشهوره صلح‌نامه ولیکل شوه چې قرآن هغې ته فتح مبین ویلې ده. په دې اړه په قرآن کریم کې راغلي دي:

(٨) هُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُ. (٤٨:٢٥)

دوی (د مکې قریش) هغه خلک دي چې کفر یې وکړ او تاسو یې له المسجد الحرام څخه منع کړل، او هم یې د قربانۍ حیوانات (هدي) بند کړل څو هغه د ذبحې خپل ځای ته ونه رسېږي.

زموږ تر نظر لاندې پوښتنه دا وه چې آیا قرآن د قربانۍ ځای ټاکلی دی؟ که یې بې‌ټاکنې پرې ایښی دی چې مسلمانان چېرته وغواړي (په خپلو کورونو او کوڅو کې) قرباني وکړي. د قرآن ټول اړوند آیتونه اوس ستاسو مخې ته راغلي دي. تاسو یې یو ځل بیا وګورئ او خپله پرېکړه وکړئ چې په دې باب کې د قرآن حکم معین دی که یې دا خبره بې‌تعینه پرېښېښې ده. تاسو به ووینئ چې:

---

د نیاز په توګه کعبې ته ورسول شي». له دې څخه هم څرګندېږي چې د هدي معنا یوازې د قربانۍ حیوان نه دی، بلکې هره هغه تحفه هم ده چې د حج په مراسمو کې وړاندې کېږي.

(i) په (۲) نمبر آيت کې د قربانۍ د حيواناتو په اړه په ځرگنده ويل شوي دي چې:

ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ. (۲۲:۳۳)

د هغو د حلالېدو ځای خانه کعبه ده.

(ii) په (۷) نمبر آيت کې (که له هدي څخه د قربانۍ حيوانات مراد هم شي) په ښکاره ويل شوي دي:

حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ. (۲:۱۹۶)

تر هغو چې د قربانۍ حيوانات د ذبحې خپل ځای ته ورسېږي.

(iii) په (۵:۹۵) آيت کې فرمايي:

هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ. (۵:۹۵)

د قربانۍ حيوان بايد کعبې ته ورسول شي.

(iv) په (۸) نمبر آيت کې راغلي دي چې د مکې قريشو د قربانۍ حيوانات بند کړل:

أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُ. تر څو هغه د خپلې ذبحې ځای ته ورسېږي.

(v) په پاته آيتونو کې د قربانۍ يادونه د حج په ضمن کې شوې ده. له دې پرته بل هېڅ ځای نه ده راغلې.

دا حقايق مخې ته کېښېږدئ او بيا فکر وکړئ چې د قرآن کريم له داسې ښکاره تصريحاتو وروسته د دې خبرې په اړه د شک او شبهې کوم ځای پاتېږي چې د قربانۍ ځای کوم دی؟ که قرآن يوازې دومره کړي وای چې د قربانۍ د حيواناتو يادونه يې د حج د مراسمو په ضمن کې کړې وای،

بیا هم د دې حقیقت په پوهېدو کې کومه ستونزه نه وه چې قرباني په مکه کې کېږي. خو قرآن په همدې بسنه نه ده کړې، بلکې بیا-بیا یې په څرګند ډول دا هم ویلي دي چې د قربانۍ ځای کعبه ده.

که له دې وروسته هم څوک په دې باب شک کوي او داسې ګڼي چې نه! قرباني په هره کوڅه او هر ځای کې کېدای شي، نو د داسې شک درملنه له هېچا سره نشته.

مَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ. (۷:۱۸٦)

اوس باید دا وکتل شي کوم نباغلي چې د قرآن د دې څرګندو تصریحاتو باوجود قرباني هرې کوڅې او هر ځای ته عاموي، د هغوی دلایل څه دي او د قرآن د پورته ذکر شوو څرګندو حقایقو پر خلاف د هغوی اعتراضونه څه دي.

په دې باب دا مهال زموږ مخې ته د سید ابوالاعلیٰ مودودي هغه مقاله ده چې تېر کال یې د قرآن د پورته یادو شوو تصریحاتو ته «فتنه» ویلي او د هغو رد یې کړی وو. دا مقاله په انجام ورځپاڼه (کراچۍ) د اختر په ځانګړې ګڼه (د ۴ سپتمبر ۱۹۵۰م) کې خپره شوې وه. په دې مقاله کې هغه په ځانګړي ډول دا احتیاط کړی دی چې هغه آیتونه پکې هېڅ یاد نه شي چې په قرآن کریم کې په څرګند ډول د قربانۍ ځای له مکې معظمې سره خاص شوی دی چې موږ پورته نقل کړي دي.

تر دې ځانګړي احتیاط وروسته هغه په خپله مقاله کې لیکي:

«تر ټولو لومړی باید موږ دا وګورو چې د قربانۍ په اړه قرآن مجید څه وايي. آیا قرآن قرباني یوازې د حج او د هغه تر اړوندو چارو پورې

محدودوي، که په نورو حالاتو کې هم د هغې حکم ورکوي؟ په دې باب دوه آيتونه بالکل ثرګند دي چې له حج سره هيڅ تړاو نه لري. لومړی آيت د سورة الانعام په وروستی رکوع کې دی. د هغه ترجمه دا ده:

اې نبي! ووايه: زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ ټول د الله رب العالمين لپاره دي، چې هيڅ شريک نه لري. ما ته د همدې حکم راکړل شوی دی، او زه تر ټولو لومړی سر ټيټوونکی يم.»

دا آيت په مکه معظمه کې نازل شوی وو، په هغه وخت کې چې نه حج فرض شوی وو او نه د هغه مراسم او مناسک ټاکل شوي وو، او په دې کې داسې کومه اشاره هم نشته چې ترې په دې وپوهېږو چې له دې حکم څخه مراد د حج په مراسمو کې قرباني کول دي.

د نسك لفظ چې په دې آيت کې کارول شوی دی، په قرآن مجيد کې په بل ځای کې د قربانی په معنا هم کارول شوی دی. د سورة البقرې (۱۹٦) آيت وګورئ.

ستاسو له ډلې څخه که څوک د حج په سفر کې ناروغ شي يا د هغه د سر کوم تکليف ولري او هغه سر وخرييي، نو دې د صدقې په توګه روژې ونيسي، يا دې صدقه ورکړي، يا دې قرباني وکړي. (۷ نمبر آيت وګورئ چې پکې د نسك لفظ راغلی دی – طلوع اسلام)

مودودي صاحب چې کوم آيت ترجمه کړی دی، هغه آيت له خپل سياق او سباق سره داسې دی. فرمايي:

(۹) قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ. (٦:١٦١)

ووایه: بېشکه ما تـه زمـا رب نېغـه لاره راښـوولې ده. هماغـه سـم او ټینـګ دین دی، د ابراهیم لاره چې حنیف وو، او هغه هېڅکله له مشرکانو څخـه نه وو.

د حنیفاً (یعنـې یوازې د یوه الله خوا ته کېـدل) تشر‌یح پـه راتلـونکي آیـت کې داسې شوې ده:

(۱۰) قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿﴾ لَا شَرِيكَ لَهُۥ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ. (۱۶۲، ۱۶۳: ۶)

ووایه: بېشکه زما الصلوٰة، زما نسك، زما ژوند او زما مـرګ ټـول د الله لپـاره دي چې د ټولو عالمونو رب دی. هغه هېڅ شریک نه لري. ما ته د همدې حکم شوی دی، او زه له المسلمین څخه لومړنی فرمانبردار یم.

او د دې توحید لا زیاته تشریح داسې شوې ده چې:

(۱۱) قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ. (٦:١٦٤)

ووایه: آیا زه له الله پرته بل رب ولټوم، حـال دا چـې هماغـه د هـر شي رب دی؟

مودودي صاحب وایي چې په دې کې د نسکي لفظ ترجمه «زما قربـاني» ده؛ نو له دې څخه د قربانۍ حکم څرګندیږي. موږ په پورتـه ترجمـه کـې (چې د ابوالکلام آزاد صاحب ترجمه ده) د نسك لفـظ هماغسـې پرېښـی دی. لکه څنګه چـې مخکـې یادونـه شـوې ده، د دې لفـظ لغـوي معنـا د سپینو زرو خالصې شوې ټوټې دي. د همـدې اخـلاص لـه اړخـه عبـادت

کوونکي ته ناسک ویل کېږي، څکه هغه خپل نفس د سپینو زرو د تـوتـې په څېر د ګناهونو له ککړتیا څخه پاکوي.[7]

په قرآن کریم کې د نسك او مناسك الفـاظ د هغـو دوو آیتونـو پرتـه (چـې مودودي صاحب يې ترجمه لیکلې ده) په لاندې ځایونو کې راغلي دي:

(۱۲) په سورة البقرة کې د ابراهیم او اسماعیل دعا:

وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا. (۲:۱۲۸)

(۱۳) په سورة البقرة کې د حج په ضمن کې:

فَإِذَا قَضَيْتُمْ مَنَاسِكَكُمْ. (۲:۲۰۰)

(۱٤-۱۵) په سورة الحج کې:

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا. (۲۲:۳٤) او (۲۲:٦۷)

وګورئ چې په دغو آیتونو کې د دې الفاظو ترجمه بېلابېلو مترجمینو څـه ډول کړې ده.

د (۱۲) نمبر آیت مناسکنا ترجمه په مختلفو ترجمو کې داسې راغلې ده:

- شاه عبدالقادر: د عبادتونو طریقې.

[7] د نسك معنا د شاړې ځمکې سـمول او هغـه د کرنـې وړ ګرځـول دي. لـه همـدې املـه ارض ناسکه هغې زرغونې ځمکې ته ویل کېږي چې تازه باران پرې شوی وي. الصلوٰة معنا دا ده چې انسان د الله په لار پسې روان وي. مصلي هغه آس ته ویل کېږي چې د آسـونو پـه سـیالۍ کـې دوهم مقام واخـلي، داسـې چـې د هغـه غوږونـه د لـومړي آس د شـا تـر څنـګ روان وي. د دې معناوو په نظر کې نیولو سره د (۱۰) نمبر آیت صحیح قرآني مفهوم څرګنـدېږي، خـو دا ځـای د دې تفصیل لپاره نه دی. دا آیت ډېر مهم دی.

- شاه رفيع الدين: د عبادت طريقې.
- جلالـين: شرائـع عبادتنـا (دا اردو ترجمـه نـه ده، خـو مفهوم روښانه کوي).
- ابوالکلام آزاد: د عبادت رښتينې طريقې.

د (١٣) نمبر آيت مناسککم:

- شاه عبدالقادر: خپل عبادتونه.
- شاه رفيع الدين: عبادتونه.

جلالين: د حج عبادات.

ابوالکلام صاحب آزاد: د حج ټول ارکان.

د (١٤) او (١٥) نمبر آيتونو – منسك:

شاه عبدالقادر: د عبادت طريقه.

شاه رفيع الدين: د عبادت طريقه.

جلالين: شريعت (پـه ٢٢:٣٤ آيـت کـې لـه دې سره د قربـانۍ ځـای هـم راغلی دی).

ابوالکلام صاحب آزاد: د عبادت طريقه.

تر دې وروسته هغه آيت در واخلئ چې مودودي صاحب د دليل پـه توګـه وړاندې کړی دی، يعنـې:

إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي. (٦:١٦٢) — (١٠) نمبر آيت

چې هلته هغه د نسکي ترجمه «زما قرباني» کړې ده. د دې لفظ ترجمه پورته يادو شوو مترجمينو داسې کړې ده:

شاه عبدالقادر: عبادتونه.

شاه رفيع الدين: عبادتونه.

جلالين: د حج عبادات.

ابوالکلام صاحب آزاد: زما حج.

دا د نسك لفظ معناوې دي په هغه آيت کې چې مودودي صاحب د قربانۍ د وجوب لپاره د قرآني نص په توګه وړاندې کړې دی، او ترجمه يې «قرباني» کړې ده. شاه عبدالقادر او شاه رفيع الدين يې معنا «عام عبادات» اخلي، او په تفسير جلالين او ترجمان القرآن د ابوالکلام آزاد کې يې معنا حج يا د حج اړوند مراسم ليکل شوې ده. (او هغه متل چې شوی وايي: اصل هغه دی چې د دښمن په خوله وويل شي). خپله مودودي صاحب هم د نسك ترجمه «قرباني» ليکي، خو تر يوې کرښې وروسته د مناسك معنا «د حج مراسم» بيانوي. د هغه اقتباس چې پورته راوړل شوی دی، يو ځل يې بيا ولولئ. په هغه کې به تاسو دا الفاظ ووينئ. دا آيت په مکه معظمه کې نازل شوی دی، په داسې وخت کې چې نه حج فرض شوی وو او نه يې مراسم او مناسک ټاکل شوي وو. کله چې مودودي صاحب د «حج کے مراسم و مناسک» عبارت ليکلی دی، نو په خپله يې دا خبره څرګنده کړه چې د مناسک معنا عامه قرباني نه ده، بلکې د حج طريقې او مراسم دي. نو که د مناسک معنا د مودودي صاحب په خپلو الفاظو کې د حج عمومي طريقې وي، نو په آيت إِنَّ

صَلَاتِي وَنُسُكِي (٦:١٦٢) کې د نسك معنا د عيدالاضحی قرباني څنګه کېدای شي؟

اوس د مودودي صاحب دوهم دليل وګورئ، چې په هغه کې وايي:

د نسك لفظ چې په دې آيت کې کارول شوی دی، قرآن مجيد کې په بل ځای کې د قربانۍ په معنا هم کارول شوی دی. د البقرې سورت، ۱۹٦ نمبر آيت وګورئ:

فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ. (٢:١٩٦)

ستاسو له منځه که څوک ناروغ وي يا د سر له اړخه کومه تکليف ولري، او سر وخرېيي، نو فديه يې دا ده چې روژه ونيسي- يا صدقه ورکړي يا نسك وکړي.

لومړی دا وګورئ چې مودودي صاحب د نسك لفظ لپاره د قرآن کريم يوازې هغه آيت راوړی دی چې هغه ګمان کوي له هغه څخه د نسك معنا قرباني اخيستل کېدای شي. نور هغه ځايونه (چې پکې ښکاره ده چې نسك، منسك، مناسك د قربانۍ معنا نه شي کېدای) هغه يې ياد هم نه کړل.

په ۷ نمبر آيت کې موږ دا ليکلي دي چې د نسك معنا لازمي نه ده چې حتماً قرباني وي. نو داسې يو ځای د دليل په توګه وړاندې کول چې څو معناوې ولري، قطعي دليل نه شي کېدای.

خو که په ۷ نمبر آيت کې د نسك معنا قرباني هم واخيستل شي، نو هلته دا خبره هم شته چې دا د حج احکام دي. نو له قربانۍ څخه مراد

هغه قرباني ده چې د حج په موقع په خانه کعبه کې ورکول کېږي. نو که د نسك معنا قرباني واخيستل شي، نو سمه معنا به يې هماغه قرباني وي چې د حج پر مهال ترسره کېږي. ځکه کله چې قرآن خپله يو مفهوم ټاکلی وي، نو بايد هماغه مفهوم واخيستل شي لکه څنګه چې يې قرآن بيانوي. نو ښکاره ده چې:

(۱) إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي (٦:١٦٢) کې د نسکي معنا «زما قرباني» نه ده، نو ځکه دا آيت د قربانۍ د حکم لپاره د قرآني نص په توګه نه شي وړاندې کېدای. او

(۲) که د دې لفظ ترجمه قرباني هم وشي، نو ترې مراد به هغه قرباني وي چې په حج کې ترسره کېږي. ځکه د قرآن هغه آيت (نمبر ۷) چې له هغه څخه د نسك معنا «قرباني» اخيستل شوې ده، هلته د نسك معنا هماغه قرباني ده چې د حج پز مهال کېږي، نه دا چې په هره کوڅه او هر ځای کې قرباني وشي. لکه څنګه چې علامه حميد الدين فراهي ـ چې په دې آيت کې يې د نسکي معنا «زما قرباني» اخيستې ده ـ وايي:

«د ټولو مفسرينو په اتفاق سره په دې آيت کې له نسك څخه مراد د حج او عمرې قرباني ده. له عربي لغت څخه هم د دې تائيد کېږي.»

باقي د مودودي صاحب دا دليل چې وايي: ځکه دا آيت (إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي ... ٦:١٦٢) په مکه کې نازل شوی وو، او هغه وخت حج فرض نه وو، نو له دې څخه مراد د حج قرباني نه شي کېدای.

د دې په اړه لومړی دا خبره د غور وړ ده چې قرآن کريم د نزول په ترتيب نه دی مرتب شوی، نو په يقين سره نه شي ويل کېدای چې کوم آيت کله نازل شوی وو. خپله دا حقيقت چې د قرآن ترتيب د نزول پر بنسټ نه

دی، د دې دلیل دی چې د الله تعالی په نزد د نزول ترتیب کوم ځانګړی اهمیت نه لري.

کېدای شي وویل شي چې د نزول له ترتیب څخه موږ د قرآني تعلیم تدریجي ارتقا معلوملای شو. خو لومړی دا چې لکه مخکې چې لیکل شوي، که دا خبره ډېره مهمه وای، نو الله تعالی به قرآن د نزول په ترتیب همداسې پرېښی وای. د قرآني تعلیم پیغام د زمان او مکان له قیدونو آزاد دی. دا تعلیم د دې لپاره ورکړل شوی چې په هر زمان او هر حالت کې د ژوند لارښوونه وکړي. له همدې امله دا د ترتیب نزول او شان نزول په ځانګړو حالاتو پورې محدود نه شي پاتې کېدای.

په قرآن کې چې څه شته، هغه د هر زمان لپاره د ژوند ضابطه ده. د حالاتو له مخې به یې احکام تطبیقېږي. نو ځکه د نزول ترتیب کوم ځانګړی اهمیت نه لري.

دوهمه دا چې د ترتیب نزول په اړه چې کوم روایتونه نقل شوي دي، هغه له یو بل سره مختلف دي. که تاسو د تفسیر کتابونه وګورئ او د یوې سورې د نزول په اړه تحقیق وکړئ، نو هلته به څو بېلابېل روایتونه ومومئ. کله خو د یوې ټولې سورې په اړه اختلاف وي چې هغه په مکه کې نازله شوې ده که په مدینه کې. کله د یوې سورې د بېلابېلو آیتونو په اړه اختلاف وي. ځینې وخت داسې هم وي چې ځینې آیتونه له هجرت وروسته د مکې شاوخوا نازل شوي وي، خو بیا هم هغه مکي لیکل شوي وي. خپله د سورۀ الأنعام (چې یکې آیت إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي ... (٦:١٦٢) دی) د ځینو آیتونو په اړه هم اختلاف شته چې مکي دي که مدني. نو ځکه یوازې دا ویل چې دا سوره مکي ده او له دې څخه د همدې بحث

نتیجه اخیستل، یو محکم دلیل نه شي کېدای. په هر حال، دا سوره که مکي وي که مدني، هغه کسان چې له دې څخه د قربانۍ معنا اخلي، هغوی (لکه څنګه چې علامه فراهي لیکلي دي) په دې خبره متفق دي چې له نسك څخه مراد هغه قرباني ده چې په حج او عمره کې کېږي.

خو له نورو دلایلو پرته هم د مودودي صاحب دا خبره چې دا سوره مکي ده، خپله زموږ د دعوې تائید کوي. موږ وایو لکه څنګه چې قرآن کریم په ښکاره ډول ویلي دي، د قربانۍ ځای مکه معظمه ده. مودودي صاحب وایي: څکه چې د قربانۍ ذکر په دې سوره کې راغلی چې له هجرت مخکې نازله شوې ده، نو له دې څخه د حج قرباني نه مرادېږي. خو دا ښکاره ده چې له هجرت مخکې رسول الله ﷺ د مکې په زمانه کې هلته موجود وو، نو لازماً به یې قرباني هم په مکه کې کوله. او همدا موږ وایو. پاتې شوه دا خبره چې په هغه وخت کې حج لا فرض شوی نه وو، نو دا د بحث پر مسئله څه اغېز لري؟

دا یو حقیقت دی چې د حج له فرض کېدو مخکې هم رسول الله ﷺ د سنتِ ابراهیمي د پیروۍ له مخې په خپل ډول حج کاوه. (ټولو عربو به حج کاوه، که څه هم د هغه اصلي مقصد ترې هېر شوی وو او د هغه په مناسکو کې مشرکانه رسمونه هم داخل شوي وو). نو کله چې رسول الله ﷺ حج کاوه، نو قرباني به هم د حج د مراسمو پر مهال کېده. مشرکانو به د خپلو بتانو په پښو کې څاروي حلالول، خو رسول الله ﷺ به هغه د الله په نوم حلالول، خپله به یې خوړل او محتاجانو ته به یې هم ورکول.

نو له دې دلیل څخه هم دا خبره څرګندیږي چې قرباني په مکه کې او د حج په مناسبت ترسره کېده. (په دې باب لا یو ټکی پاتې دی چې د وَانْحَرْ (۱۰۸:۲) په اړه به لږ وروسته بیان راشي).

اوس هغه دوهم آیت وګورئ چې مودودي صاحب د خپلې دعوې د دلیل په توګه وړاندې کړی دی. لیکي:

دوهم آیت په سورة الکوثر کې دی چې ژباړه یې دا ده:

پس د خپل رب لپاره لمونځ وکړه او قرباني وکړه.

دا آیت هم مکي دی او پکې همداسې کومه اشاره یا قرینه نشته چې له مخې یې وویل شي چې د قربانۍ دا حکم یوازې حج ته ځانګړی دی. که څه هم دا خبره سمه ده چې اهل لغت د نحر معناوې داسې هم بیان کړې دي لکه: پر سینه لاس تړل، قبلې ته مخ کول، او اول وخت لمونځ ادا کول. خو دا ټولې لیرې معناوې دي. په عامفهمه عربي کې د دې لفظ مفهوم قرباني اخېستل کېږي. (تر دې وروسته مودودي صاحب د احکام القرآن حواله ورکړې ده).

همدا وجه ده چې د قرآن ټولو مترجمینو لکه شاه ولي الله، شاه عبد القادر، شاه رفیع الدین، مولانا محمود الحسن، مولانا اشرف علي، ډپټي نذیر احمد او نورو ټولو په اتفاق سره د دې لفظ ژباړه په قرباني کړې ده.[8]

---

[8](د آیت إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي (۶:۱۶۲) په ژباړه کې شاه عبد القادر، شاه رفیع الدین، اشرف علي تهانوي او نورو د نسك ژباړه عبادات کړې وه. نو دا ژباړه د مودودي صاحب د مقصد خلاف وه،

دا د سورۀ الکوثر آیت دی چې الفاظ یې داسې دي:

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ. (۱ ـ ۳: ۱۰۸)

بېشکه موږ تا ته الکوثر درکړی دی. نو د خپل رب لپاره لمونځ وکړه او قرباني وکړه. بېشکه ستا دښمن هماغه بېنسله دی.

«په دې کې د نحر لفظ د غور وړ دی. له دې اړخه چې عموماً ویل کېږي: د روایاتو له لارې د قرآن صحیح مفهوم ټاکل کېږي. که له روایاتو مرسته وانخیستل شي نو د قرآن سم مطلب نه شي معلومېدای. د نحر لفظ په قرآن کې یوازې همدلته راغلی دی. اوس وګورئ چې روایات د دې څه مفهوم ټاکي.»

(۱) حضرت علي رضی الله عنه فرمایلي دي چې له نحر څخه مراد دا دی چې ښی لاس د چپ لاس پر مړوند کېښښودل شي او دواړه لاسونه په لمانځه کې پر سینه ونیول شي.

(۲) له حضرت علي رضی الله عنه څخه بل روایت دا دی چې کله دا سوره نازله شوه نو رسول الله ﷺ له جبریل څخه وپوښتل: دا نحیره څه شی دی چې زما رب یې ما ته حکم راکړی دی؟ جبریل وویل: نحیره نه ده، بلکې حکم دا دی چې تاسو د لمانځه د لومړي تکبیر، د رکوع، له رکوع وروسته، او د سجدو پر مهال خپل لاسونه پورته کوئ. دا زموږ لمونځ دی او د هغو ملایکو لمونځ هم دی چې په اوو اسمانونو کې دي. د هر شي یو نیت وي او د لمانځه نیت دا دی چې د هر تکبیر سره رفع الیدین وشي.

---

مودودي صاحب هلته د دوی د ژباړو یادونه نه ده کړې. خو دلته چې د دوی ژباړه د هغه له مقصد سره موافق وه، نو د هغو ذکر یې کړی دی.

(۳) د حضرت ابن عباس قول دی چې د دې معنا دا ده: خپله غاړه د قبلې لور ته کړه.

(۴) د امام باقر ارشاد دی چې له دې څخه مراد د لمانځه په پیل کې رفع الیدین کول دي.

(۵) حضرت عطا خراساني وايي چې والنحر څخه مراد دا دی چې کله له رکوع څخه ملا پورته کړې، نو اعتدال کوه او سینه ښکاره کړه، یعنې اطمینان حاصل کړه.

له دې روایتونو پرته نور اقوال هم وګورئ:

(۱) ابن الاعرابي وايي چې د دې مطلب دا دی چې په لمانځه کې د محراب مخې ته نېغ ودرېږه.

(ب) ضحاک وايي چې معنا يې دا ده: تر دعا وروسته دواړه لاسونه د سینې پورته برخې پورې پورته کړه.

(ج) امام راغب په مفردات کې لیکي چې نحر د سینې پورته هغه ځای ته ویل کېږي چې د ګرېوان بند وي. نو په والنحر کې حکم دا دی چې لاسونه د نحر په ځای کې کېښېښودل شي. او دا هم ویل شوي دي چې له دې څخه مراد دا دی چې د شهوت ریښه پرې شي او د نفس کشي هڅوه وشي.

تاسو د نحر د لفظ دا څېړنه ولیده. امام رازي وايي چې له دې څخه مراد د اوښ حلالول دي. نو د دې معنا قرباني شوه:

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ. (۱۰۸:۲)

د خپل رب لپاره لمونځ وکړه او قرباني وکړه.

اوس د دې آیت د نزول د ځای په اړه وګورئ. مودودي صاحب وايـي چـې دا په مکـه کـې نـازل شـوی دی. محمـد علـي صـاحب لاهـوري پـه خپـل تفسير کې ليکي:

د دې سورت د نزول په اړه اختلاف شته. ځينې يې مکـي بـولي او ځينـې يې مدني، او ځينو دا هم ويلي چې دا دوه ځله نـازل شـوی دی: يـو ځـل په مکه او بل ځل په مدينه کې. خـو حقيقـت تـه نـژدې خـبره دا ښـکاري چې دا په مکه معظمه کې نازل شوی دی.[9]

خو علامه فراهي وايي چـې دا د صـلح حديبيـه پـه ورځ نـازل شـوی دی. وايـي:

دا سورت د صلح حديبيه په ورځ نازل شوی چـې د مکـې د فتحـې، حـج، لمونځ، قربانـي، د اسلام غلبه او د امت د کثرت د پيل دروازه ده.

لږ مخته د ټول سورت (سورة الکوثر) د حکمت په اړه داسې ليکي:

په ساده الفاظو کې داسې ويل شوي دي چـې الله تعـالی تـا تـه يـو لـوی امت درکړی دی چې لمونځ کوونکی او د الله په لار کـې لګښـت کـوونکی دی او د بيت الحرام به حج کوي.

يعنې له والنحر څخه مراد د بيت الحرام حج کول دي.

ابن جرير په دې باب ليکلي دي:

له سعيد بن جبير څخـه روايـت دی چـې د فَصَـلِّ لِرَبِّـكَ وَانْحَـرْ (۱۰۸:۲) آيت د حديبيه په ورځ نازل شو. جبريل عليه السـلام راغـی او ويـې ويـل:

---

[9] دا يې نه ده په ګوته کړې چې د هغه د خپل علم ذريعه څه ده؟ تش قياسونه دي!

قرباني وکړه او بېرته وګرځه. نو رسول الله ﷺ پاڅېد او د کوچني اختر یا لوی اختر خطبه یې ورکړه (راوي شک کړی دی). بیا یې دوه رکعته لمونځ ادا کړ او قرباني یې وکړه. په همدې وخت کې حضرت جبریل د فَصَلِّ لِرَبِّكَ (۱۰۸:۲) پیغام راوړ.

یعنې کله چې د مکې کفارو د رسول الله ﷺ کاروان د حدیبیه په ځای کې ودراوه او د قربانۍ حیوانات یې هم مکې ته له رسېدو منع کړل (لکه څنګه چې په سورة الفتح کې ذکر شوي)، نو دا پوښتنه پیدا شوه چې د قربانۍ له حیواناتو سره دې څه وشي؟ په هغه وخت کې جبریل راغی او ویې ویل: همدلته یې قرباني کړئ او دوه رکعته لمونځ وکړئ.

د والنحر معناوې مو ولیدې او د نزول د ځای په اړه بیانونه هم. لږ فکر وکړئ: ایا له دې څخه داسې نتیجه ایستل کېدای شي چې د والنحر معنا دې دا وي چې د نړۍ په هره کوڅه او هر ځای کې د قربانۍ حیوانات حلال شي؟ که دا سورت (سورة الکوثر) په مکه کې نازل شوی وي، نو ګمان دا دی چې دا نر هجرت مخکې له هغو سورتونو څخه دی چې د هجرت وخت ته نژدې نازل شوی دی، ځکه د اوسني ترتیب له مخې دا د هغو سورتونو ترمنځ ایښودل شوی دی چې د هجرت له پېښې سره تړاو لري. دا هغه وخت وو چې پر مسلمانانو سختۍ او مصیبتونه راتول شوي وو. ظاهراً هر لوري ته مایوسي ښکارېده. داسې وخت راغلی وو چې هغوی باید خپل کورونه هم پرېښې وای. د راتلونکي په اړه هم د امید کومه رڼا نه ښکارېده.

په دغو ناهیلی کوونکو حالاتو کې د إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ (بېشکه مونږ تا ته ډېر زیات انعامونه درکړي دي) دا زېری ډېر ژوند بخښونکی او د مخالفینو لپاره حیرانوونکی وو. د دې لپاره داسې وفرمایل شول چې د دغو نعمتونو کثرت به د هغه نظام د جوړېدو او نافذېدو نتیجه وي چې پیل یې له الصلوٰة څخه کېږي او پای یې د امت په لوی اجتماع کې دی:

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ.

که د نحر معنا قرباني واخیستل شي، نو دا د اوښ قرباني ته ځانګړې ده. د اوښ د حلالولو په حکم کې یوې بلې مهمې نکتې ته هم اشاره شوې ده. په مدینه کې هغه مهال د یهودیانو نفوذ وو. کېدای شي د چا په ذهن کې دا فکر پیدا شي چې دا کمزوری او بې وسه د مسلمانانو کاروان به تر هجرت وروسته د مدینې له یهودیانو سره مفاهِمت (compromise) وکړي او د قریشو مقابله به د هغوی په مرسته وکړي.

[10] د وانحر په لفظ سره دا شک هم له منځه یووړل شو. د یهودیانو په دین کې اوښ حرام وو. مسلمانانو ته د اوښ د حلالولو حکم وشو، یعنې د یهودیانو د طریقې خلاف. داسې یې وګڼئ لکه نن چې د هند کمزورو مسلمانانو ته ناڅاپه کومه غیبي اشاره وشي او ورته وویل شي: پاڅئ او غوا حلاله کړئ.

او که دا سورت د صلح حدیبیه په وخت کې نازل شوی وي، نو هغه وخت هم حالات ډېر سخت وو. په ظاهر کې هغه سوله د شکست په معنا ښکارېده. خو قرآن په همدې وخت کې د کوثر د ورکړې زېری وشو او د

---

[10] د تفصیل لپاره «معراج انسانیت» د (هجرت) عنوان وګوره.

والنحر[11] له لاري يې وښودله چې که نن دوی تاسې مکې ته له رسېدو منع کړي دي او ستاسې قرباني يې هم هلته له رسېدو منع کړې دي، نو دا کومه غمیزه نه ده؛ ډېر ژر به هلته ورسېږئ او قرباني به وکړئ.

له دغو ځرګندو بيانونو وروسته تاسو فکر وکړئ چې په «فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ» کې له وانحر څخه څنګه دا ثابتېږي چې د اختر په ورځ په هره کوڅه او هر ځای کې قرباني واجبه ده؟

خو که تاسو ټينګار کوئ چې له وانحر څخه مراد په هر ځای کې قرباني کول دي، نو بيا پر لاندې ټکو هم فکر وکړئ. په فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ کې فَصَلِّ (لمونځ وکړه) د امر صيغه ده، چې معنا يې دا ده لمونځ فرض دی. همدارنګه وانحر هم د امر صيغه ده، نو بايد نحر هم فرض شي. يعنې چې کوم حيثيت د لمانځه دی هماغه حيثيت به د قربانۍ وي. دواړه به په يوه درجه فرض وي، ځکه حکم يې يو ډول دی. د فصل (لمونځ) د فرض کېدو په اړه خو ځوک اختلاف نه لري. خو وګورئ چې د وانحر (قربانۍ) په اړه څه عقيده ده.

د مودودي صاحب په خپلو الفاظو کې يې وګورئ. هغه ليکي:

د قرآن او حديث د دغو دلايلو پر بنسټ د امت فقهاوو د لوی اختر د قربانۍ په اړه په اتفاق دا رأيه ورکړې ده چې دا يو مشروع عمل دی او د

[11] د نحر له معناوو څخه يوه دا هم ده چې پر يو کار بشپړ تسلط پيدا کړل شي. نحر الأمور معنا: هغه پر چارو بشپړ control ترلاسه کړ. «نحر العلم نحراً» معنا: هغه په علم کې Master شو. نو د ډېرو نعمتونو د ترلاسه کولو لار دا ده چې نظام الصلوٰة قائم شي او په دې توګه پر ټولو چارو بشپړه غلبه او تسلط ترلاسه شي. د دې پايله به دا وي چې ټول مخالف قوتونه به له رينښې وباسي او د هغوی بنسټ به پرې شي: إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ.

اسلام له سنتو څخه دی. اختلاف یوازې په دې کې دی چې دا واجب ده، که نه. خو دا چې مشروع او سنت ده، په دې کې اتفاق شته. علامه ابن حجر عسقلاني په فتح الباري کې د فقهاوو مذاهب داسې لنډ کړي دي:

په دې کې هېڅ اختلاف نشته چې د لوی اختر قرباني د دین له شعائرو څخه ده. د شافعیانو او د جمهورو په نزد دا سنت مؤکده ده د کفایت په ډول. او په شافعیانو کې بله رأیه دا ده چې پر مقیم او توانمند انسان واجب ده. د امام مالک رأیه هم د یوې روایت له مخې همدا ده، خو هغه د مقیم شرط نه دی ایښی. د اوزاعي او ربیعه رأیه هم همداسې ده. د حنفیانو له ډلې څخه ابو یوسف او د مالکیانو له ډلې څخه اشهب د جمهور له رأیې سره موافق دي. امام احمد بن حنبل وایي چې که څوک د توان سره-سره قرباني ونه کړي نو دا مکروه ده. او د هغه بل قول دا دی چې قرباني داسې سنت ده چې پرېښودل یې مناسب نه دي.

تاسو ولیدل چې د اختر قرباني د هېچا په نزد فرض نه ده. تر ټولو زیات چې څه ویل شوي هغه دا دي چې سنت ده، او هغه هم داسې چې د امام احمد په نزد که د توان سره-سره قرباني ونه شي نو دا مکروه ګڼل کېږي.

تاسو لږ فکر وکړئ: په قرآن کې د «فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ» حکم یو ځای راغلی دی. د صل (لمونځ وکړه) په اړه د هر چا اتفاق دی چې دا فرض عین دی، خو د همدې حکم د دوهمې برخې په اړه دا حالت دی چې هېڅوک یې فرض نه بولي. د الصلوٰة پرېښودونکی د اسلام له دایرې څخه خارج ګڼل کېږي، خو څوک چې د توان سره-سره قرباني ونه کړي

نو یوازې د مکروه فعل مرتکب بلل کېږي او بس! له دې څخه تاسو اندازه کولای شئ چې له وانحر څخه د اختر قرباني اخیستل څنګه قرآني مفهوم بلل کېدای شي.

بیا یو ګام نور هم مخکې ولاړ شئ. که له وانحر څخه مراد قرباني وي، نو نحر یوازې د اوښ قرباني ته ځانګړی دی. د غوا، پسونو او وزو قرباني پکې هېڅ نه شاملیږي.

یو بل ګام نور هم. قرآن وایي:

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ.

د صل معنا شوه: لمونځ وکړه، او د هغوی په نزد د وانحر معنا شوه: قرباني وکړه. اوس ښکاره ده چې د صل د حکم ادا کول به هماغسې وي او له هماغو شرطونو سره به وي چې قرآن په نورو ځایونو کې بیان کړي دي. مثلاً قرآن حکم کړی چې د الصلوٰة لپاره باید د قبلې پر لوري مخ وګرځول شي. نو کله چې صل ویل کېږي، نو دا ټول شرطونه ورسره لازم وي. لکه څنګه چې دا د صل لپاره ضروري دي، همدارنګه باید د وانحر لپاره هم ضروري وي.

د صل لپاره قرآن سمت قبله ټاکلې ده، او همدارنګه د نحر لپاره هم قرآن د کعبې ځای ټاکلی دی. نو لکه څنګه چې د صل (لمونځ) لپاره د قبلې لوری ضروري دی، همدارنګه د نحر (قرباني) لپاره د کعبې ځای ضروري دی. نه د قبلې له لوري پرته (هرې خوا ته مخ اړولو سره) لمونځ کېدای شي، او نه د کعبې له ځای پرته (په هر ځای کې) قرباني.

